اخوند پنجو
او د دې ډلې کارونه په پښتو ادب کې

د پښتو ادب په منځنۍ دوره کې تر ۹۰۰ هـ وروسته په ځينو لويو کورنيو او سياسي او ديني ډلو کې روزل سوی دئ. په دې دوره کې پښتانه په يوه اوږده حياتي مجاهده ګرفتار وه او د دې ملي مجاهدې يو ډېر مهم مرکز هم د اټک را په دېخوا د پښتونستان سيمي او غرونه وه.

دلته ملي رجالو او د پښتنو رهبرانو د مغولو د غښتلي او لويي شهنشاهۍ سره چې مرکز يې ډيلي و مقابله کوله، او د دوی د نهضتونو او ملي حرکاتو اساس هم د آزادۍ ساتنه او د پښتنو د ملي موجوديت خوندي کول و.

له دې حرکت سره پر اړخ يو بل محرک هم تل موجود و، چې دوی به د ديني تبليغ او تلقين له لاري خپل هغه لومړی ملي مقصد ټينګاوه او د دې تلقين له پاره نو دوی پخپله ژبه د خلکو پوهونه او ځيرونه لازمي ګڼله.

په داسي يوه اجتماعي او سياسي چاپېر کې نو مليت او دين او ادب څنګ پر څنګ سره تله او موږ وينو چې د پښتو ادب په تاريخ کې ځيني درنې او لويي کورنۍ او ډلې پيدا سوي، چې د اجتماعي او ديني او سياسي لوړو مقاصدو له پاره يې د پښتو ادب هم پخپله غېږ کې روزه او زموږ د ژبي ځيني ګرانبها آثار او کتب د دغو کورنيو او ډلو په غېږ کې پالل سوي دي.

په دې سلسله کې موږ دغه درنې کورنۍ پېژنو :

۱. د يوسفزو ګڼه او لويه کورنۍ، چې ملک احمد او ملک ګجو يې سياسي مشران او شيخ ملي يې اجتماعي او ديني مشر و او د شيخ ملي په لاس دوتر (دفتر) په پښتو وليکل سو.
۲. د شيخ رحمکار کاکاخېله کورنۍ چې د خټکو څخه وه او د ده ډله.
۳. د خوشحال خان خټک کورنۍ او ډله يې.
٤. د پير روښان کورنۍ او ډله يې.
۵. د اخوند درويزه کورنۍ او ډله يې.
٦. د سلطان محمد ګډون او شيخ پنجو ډله.

دا کورنۍ او ډلې يوازې د اټک او خيبر تر منځ د پېښور په سمسوره وادي کې تېري سوي دي، چې ډېر د پښتو ادبي آثار او کتب او د شعر دېوانونه او د تاريخ کتابونه پکښې ليکل سوي دي او که سړی نوره پلټنه او ګروېږنه وکي نو ښايي چې دغسي نوري ډلې او کورنۍ هم مينده کي، خو دلته به زه يوازې د اخوند پنجو پر ډله باندي د تاريخي واقعو په رڼا کي لږ څه درسره وږغېږم :

هغه وخت چې د پښتنو ټولواکي او د لوديانو د درنې کورنۍ برم په هند کې راغوځاربېدونکی و او بابر مغولي بريالي د پښتنو بېړۍ غرقولو ته ملا تړلې وه، د بر اباسين پر دې غاړه او پوري غاړه کې د مهابڼ تر لمنو يو د آزادۍ او ملي تنظيم او ديني اصلاح تحريک روان و، چې مشر يې سلطان محمود ګدون (يو کاکړ پښتون) و، او دغه کډون قوم د هزاره په وادي کې د مهابڼ تر غره پوري پراته دي[1]. سلطان محمود يوه ډله غښتلي او خورا تنګيالي شاګردان او پيروان وروزل او د ده په شاګردانو کې يو سړی ډېر مشهور سو، چې نوم يې سيد عبدالوهاب

او د سید غازي زوی و، دده پلار سید غازي په هند کي د لودیانو سقوط په سترګو لیدلی او پښتونخوا ته راغلی و، ده د یوسفزو په یارحسین کي د ملک ګجو خان تر سیوري لاندي ژوند کاوه، څو چي په ۹۸۹ هـ په اټک کي وفات سو او هورې ښخ دئ.

سید عبدالوهاب تر سلطان محمود وروسته د پښتنو مشر سو او د ده د خلافت چوغه یې واغوستله او هغه وخت چي عمر یې ۴۸ کاله و په ۹۹۰ هـ د پېښور اکبرپورې ته راغی او دلته یې له اټکه تر خیبره یو ملي او روحاني تنظیم جوړ کړ، او د عمر پر ۹٦ کال د رمضان پر ۲۷ مه ورځ دوشنبې ۱۰۴۰ هـ همدلته مړ سو او قبر یې تر اوسه هم معلوم دئ، خلک یې ننګوي.

دی په اخوند پنجو له دې جهته معروف سو چي د اسلام پر پنځ بنا به یې ډېر ټینګ کاوه او دغه دده د دیني تبلیغ موخه وه، خو دې سړي او د ده ډلي د طریقت د سجادې سره سره توره هم په ترخ کي لرله، او کوم وخت چي د پښتنو یو مشر شیخ فاضل خدرزی په بهلوت کي د ده مرید سو، نو د اخوند پنجو توره لا تېره سوه، او نفوذ یې په ټوله پښتونخوا کي خپور سو، حتٰی رضواني وایي : چي په ۹۹۳ هـ اکبر پاچا هم په اکبرپوره کي دده ته راغلی و[۲].

عبدالوهاب دوه وروڼه عبدالرحمن او عیسٰی درلوده او دغه عیسٰی ځیني ټیلیفونه هم لري، او تر ده وروسته د پښتنو د دغي ډلي ریاست عبدالرحمن ته ورسېده[۳] او اخوند یونس هم د ده له مشهورو شاګردانو څخه و، چي په خاد کي یې مزار تر اوسه هم ډېر مشهور دئ.

د اخوند پنجو په شاګردانو کي دوه وروڼه اخوند چالاک او اخوندسیاک (عمر) خورا شهرت لري او د خټکو څخه تر ننګرهاره د دوی نفوذ خپور و، دوی د افغانستان له شمالي خواوو څخه خټکو ته راغله او د چغرزو او اباسین او کابل، بګرام او هزاره او بونیر په غرو او سیمو کي یې د جهاد هنګامه توده کړه، د هغه وخت ډېر مشاهیر لکه : جمیل بېګ د خوشحال خان ورور او عمر خان د شیوې رئیس، او باکوخان د پنجتار مشر او اخوند شاه د هوتي مردان او د غرغښتي یارخان د دې ډلي مهم غړي وه، او شیخ رحمکار کاکا صاحب هم له دوی سره ملګري کوله [۴]. د دغي ډلي یو هدف دا و چي د هزاره په شمالي غرو کي د کشمیر وادي او کاغان، پکلۍ او الایي او ندهار او چیلاس پوي ځیني خلک وه چي په دوی کي اسلام نه و خپور سوی او د هغو مشر دوما نومېدی، نو دغو پښتنو دغه خلک د اسلام په دین مشرف کړه او هر ځای یې مساجد جوړ کړل او بل سیاسي او ملي مقصد یې دا و چي د مغولو په مقابل کي خپل ملي محاذ قوي کاندي او د هغو د تجاوزاتو مخه ونیسي.

د دوی ملي قوا اوس د باکو خان په قیادت او د ملا چالاک په فتوا تر پنځو زرو تنو پوري له یوسفزو څخه تشکیل سوې وه، نو دوی په پکلۍ کي د چهاچل کلا ونیوله او هلته یې د آزادۍ پرچم لوړ کړ، مګر اورنګزېب د مغولو امپراتور په ۱۰۷۷ هـ د کابل صوبه دار میرخان او د اټک فوجدار کامل خان د ډېرو قواوو سره پر دوی وګمارل.

دلته د افغانانو ملي قوا تر ۵۰ زرو پوري ورسېده او د ارونګزېب پاچا له ظالمو لښکرو سره یې خورا کلک او لوی لوی جنګونه وکړه. اورنګزېب خپل یو خونخور او زلند لښکري قوماندان اغر خان هم دلته راواستاوه، ده د ډېرو پښتنو سرونه ور پرې کړه او په کابل او پېښور کي یې له هغو څخه کله منارونه جوړ کړل.

د مغولو درباري مړرخان د دغو جنګو حال داسي لیکي چي :

په یوه جګړه کي د دوو زرو تنو پښتنو سرونه پرې کړل سوه او هغه یې ډیلي ته واستول، او هلته یې یو جګ کله منار ځني جوړ کی.

د مغولو مړرخان دا خبره مني چي دمخه د ډیلي پاچهانو د پښتنو په داخلي ژوند او کارونو کي مداخله نه

کوله مګر کوم وخت چې اورنګزېب دا ترتیب مات کړی نو يې نتيجه دا سوه چې ټولو پښتنو د دوی په مخ کي قيام وکړ، او دا هنګامه د ۱۰۷۷ هـ کال تر شواله هلته توده وه.

د دې ډلي علمي کارونه :

د چالاک ملګرو او د اخوند پنجو شاګردانو ځيني ديني او علمي کتابونه په فارسي او عربي او پښتو هم ليکلي دي، چي د دې ډلي د پوهني ذوق او علمي نشاط ښه ځني ښکاري، او دا راته ښرکندوي چي دوی یوازي جنګي او ديني مشران نه وه بلکي د علم او قلم خاوندان هم وه او پخپله چالاک دغه کتابونه کښلي دي :

فتاوای عربيه، بحر الانساب د پښتنو او ترکانو او ساداتو او د طريقت د مشايخو انساب، دريم کتاب يې غزويه و، چي د خپلي ډلي غزاوي يې له کوهستاني کافرانو سره شرح کړي وې، څلورم کتاب يې مناقب اخوند پنجو و په فارسي.

دغسي هم شيخ عبدالرحمن بن ميان علي د اخوند پنجو مناقب په فارسي کښلي وه، چي دغه مناقب په ۱۱۹۸ هـ د اکبرپورې شاعر [خاکي] د [مناقب خاکي] په نامه نظم کړل او شيخ عبدالغفور عباسي پېښوري هم د اخوند پنجو مناقب وليکل.

د دوی پښتو آثار :

په دغه ډله کي چي د پښتو ادب له پاره څه خدمت سوی دئ اوس ما ته دغه درې کتابونه معلوم دي :

(۱) پخپله عبدالوهاب په درو ژبو پښتو، فارسي، هندي خبري او ليک کاوه، ده د حنفي فقهي مشهور کتاب کنزالدقائق په پښتو منظوم کړی و.

(۲) د اخوند چالاک يو مريد ملا مست زمند و، چي په پښتو يې يو کتاب سلوک الغزات وليکه، دا کتاب منثوري او منظومي برخي او تاريخي او حماسي مضامين لري، خلکو ته د غزا تشويق کوي او د خپل پير چالاک مدح کوي او د خپلي ډلي د جنګو او غزاوو احوال ليکي. د دې کتاب يوه ناقصه واحده نسخه د کابل د مطبوعاتو په کتب خانه کي سته او پښتو ټولني رانيولې ده.

(۳) ميان پادشاه د اکبر پورې د کندي شيخان اوسېدونکی دمخه ذکر سوی (مناقب خاکي) له فارسي څخه په پښتو منظوم ترجمه کړ او د لومړي او دريم کتاب خطي نسخې د پېښور په شاوخوا کي پيدا کيږي، او رضواني په تحفه کي د دې ډلي د رجالو احوال او مناقب په تفصيل سره ليکي[5].

لمن ليکونه :

۱. حيات افغاني، ۲۴۶ مخ.
۲. د رضواني تحفۀ الاولياء ۳۴ مخ.
۳. تذکرۀ الابرار، ۱۸۵ – ۱۸۸ مخونه.
٤. تذکره ۱۳۲ مخ، تحفه ۳۲ مخ.
٥. کندهار مجله، ۱۳۴۱ ش کال، درېيمه ګڼه، ۳ مخ.